**مطبوعاتي اعلاميه**

# چين د امريکا په شان د مسلمانانو دښمن دی
# او هر ډول سياسي او نظامي معامله ورسره خيانت ګڼل کېږي

د افغانستان د بهرنيو چارو وزير محمد حنيف اتمر د ثور په اتمه په يوه خبري کنفرانس کې وويل چې له خپل چيني سيال سره يې «ښې خبرې» لرلې. د هغه په خبره له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان له امنيتي او دفاعي ځواکونو د چين د ملاتړ مسأله په جدي ډول مطرح شوه او د چين ځواب «ډېر مثبت» و، خو دا موضوع په سيمه کې د لوی (جيوپولټيک) بدلون په مانا نه ده. اتمر وايي چې افغانستان تل له سيمې او چين سره د ترهګرۍ ضد مبارزې په برخه کې همکاري کړې او چين له ترهګرۍ وېره لري.

دا څرګندونې يو ځل بيا ښيي چې افغان چارواکي څومره لاسپوڅي او له اسلامي او انساني ارزښتونو خالي فکر لري. په داسې حال کې چې د امريکا او ناټو په مشرۍ شل کاله له «ترهګرۍ» سره جګړه ټولو ته څرګنده شوې ده چې دا په سيمه کې له اسلامي ارزښتونو او مسلمانانو سره له مبارزې پرته بل څه نه وو او سلګونو زرو افغانانو ته يې مرګ‌ژوبله، ځاني او مالي زيان واړاوه. اوس چې امريکايي اشغالګر له ذليلانه ماتې وروسته له افغانستان څخه د وتلو په هڅه کې دي، دغو باد راوړو او د لوېديځ مزدورو چارواکو درک کړې چې د امنيتي ځواکونو د تمويل او تجهيز په برخه کې له ستونزو سره مخ شوي او آن په هوا کې پاتې شوي دي او ژر به د افغانستان د پخوانيو چارواکو په شان له ذليل برخليک سره مخ شي. په همدې خاطر هڅه کوي چې د خپل ځان لپاره نوي سيمه‌ييز ملاتړي او تمويل کوونکي ولټوي.

د افغانستان خاين چارواکي په دې سياست سره له يوه اړخه غواړي چې د امريکا او چين په نړيواله سيالۍ کې امريکا او لوېديځ ته دا پيغام ورکړي چې که تاسې د افغان امنيتي ځواکونو په تمويل او تجهيز کې همکاري نه کوئ، نو ستاسې سيالان حاضر دي چې په ډېره لېوالتيا دا تشه ډکه کړي. له بله اړخه له خپلو پخوانيو چارواکو اندېښنه لري او د هغوی د مکر د مخنيوي لپاره زياتوي چې دا موضوع په سيمه کې د لوی (جيوپوليتيک) بدلون په مانا نه ده.

خو تر دې ټولو مهمه دا ده چې د امريکا او ناټو په شان د چين لاسونه هم د بې رحمه قصاب په شان د مسلمانانو په وينو سره دي. همدا اوس يې ميليونونه ايغور مسلمانان په کمپونو کې بندي کړي او د اسلام د پرېښودو لپاره يې پر هغوی وحشت او وېرې ته دوام ورکړی دی. د شرقي ترکستان مسلمانان يې په خپله خاوره کې بنديان کړي دي، څو هر ډول عبادت او اسلامي مراسم پرېږدي. د شرقي ترکستان هرې مسلمانې او متدينې کورنۍ ته يو چينايي مامور ټاکل شوی دی، چې د ژوند ټول چارې يې وڅاري او که چا لمونځ کاوه، روژه يې نيوله، رېره يې پرېښودله، حجاب يې کاوه او يا يې په کور کې قرانکريم او جای‌نماز پيدا کېده، ژر به د چين دولت ته خبر ورکوي چې هغوی ته جزا ورکړي.

نو؛ چين د امريکا، ناټو هېوادونو او روسيې په شان له مسلمانانو سره باالفعل محارب دی او ورسره هر ډول معامله قطعي حرامه او د دوو ميلياردو مسلمانانو له عقيدې او شرعي ګټو سره خيانت دی. دا هغه چاره ده چې د اسلامي هېوادونو خاينو مشرانو ورته هېڅ اهميت نه دی ورکړی او نه يې ورکوي. پر دې اساس دا د افغانستان د لاسپوڅو چارواکو بل ښکاره او منافقانه جنايت دی چې غواړي د افغانستان مسلمانان د اشغال او استعمار بلې کندې ته ور وغورځوي او په دې ډول ذليلانه کړنو سره خپل واک او لړزانده نظام ته پاېښت ومومي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**